

# افغانستان کې
# د بېوزلۍ له سره تعریفول



@2019

## افغانستان کې د بېوزلۍ له سره تعریفول

په افغانستان کې څو لسیزو جګړو د بېوزلۍ کمولو او اقتصادي پراختیا لپاره د پالیسي جوړول له پامه غورځولي. تر ډېره بریده په دولتي ادارو کې په پراخه کچه اداري فساد، د ملي شتمنۍ لوټل او په قدرت کې د جنګ سالارانو واک په ملي او محلي کچه دې مسئلې ته په سمه توګه لاسرسی لا ستونزمن کړی دی. ددې پالیسۍ له اهدافو څخه یو دا دی، چې پر هغو لارو چارو بحث وشي، چې د غربت د کمولو هڅې ګړندۍ او مؤثرې کړي او **له هر ځای څخه په بېلابېلو ډولونو کې د شته بېوزلۍ د دایمي ختمولو هدف ته د** رسېدو لار آسانه کړي. ددې پالیسي هدف مدني ټولنه او غیر دولتي مؤسسې، افغان پالیسي جوړونکي او مرستندویه ادارې دي. د بېوزلۍ د اندازه کولو اوسنۍ پیمانه د ضروري اړتیاوو پر لګښت (CBN) تمرکز کوي. دغه چاره د سړي سر لګښت کچه څرګندوي، چې د کورنۍ غړي د ځان لپاره د "لومړنیو اړتیاوو" د غذایي او غیرغذایي توکو په ډول د پوره کولو تمه کوي.همدغه چاره د غربت د کرښې اندازه کولو لپاره هم کارول کېږي. د سړي سر ناخالص تولید هم د غربت اندازه کولو لپاره استفاده کېږي چې د افغانستان د سړي سر عاید ۱۱۹۵۰ ډالر دي په داسې حال کې چې د نړۍ سړي سر اوسط عاید ۱۷۰۰۰ ډالر دي. دا په هیواد کې د ژوند معیار څرګندوي او افغانستان د نړۍ تر ټولو غریبو هیوادونو په کتار کې حسابوي. په ۲۰۱۸ میلادي کال کې د سړي سر عاید ۵۲۱ ډالره اټکل شوي وو چې د تېر کال په پرتله ۶,۳۶ سلنه کمښت ښيي. لکه څرنګه چې لاندې ټکي په ګوته کوي، نوې لارې اړینې دي تر څو د "پاریس معیارونه" عملي شي چې د غربت سره د مبارزې لپاره د بهرنیو مرستو په تحرک کې خورا مهم معیارونه دي.

د غربت کمولو په اړه خبرې باید دقیقې او څو بُعدي وي او تر ټولو مهمه دا چې د اوږدمهالې ژمنې پر اساس د غلا او تېښتې له روان ذهنیت څخه ورهاخوا وي. د غربت راکمول باید د ډېرو دولتي بنسټونو لومړیتوب وي. دا باید د ټولنیز عدالت او د ټولنې له خرافاتي فرضیو څخه ورهاخوا وي. د مؤثر ګډون لپاره غږ او استازیتوب چې مناسبوالی رامنځته کوي، ډیر اړین دی. له بېوزله سره باید د احصائیو یا د بې مخې، خاموشه او همجنسې کټګورۍ په توګه چلند ونه شي چې د مرسته کوونکو د مرستو خوندي کولو لپاره د تضمین په توګه وکارول شي.

## د بې عدالتۍ او غربت له لاملونو سره مبارزه؛ د خدمتونو چمتو کولو دوام؛ او مخ په ډېرېدو بېکارۍ په نښه کول:

په ۲۰۱۸ کې د افغانستان ۵۴,۵ سلنه خلکو د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کاوه، چې له تېرو کلونو څخه په دوامدار ډول کمښت ښيي. ځینې د دې لوی دلیل له لېږد څخه دمخه موده کې په پراخه کچه د اقتصادي ودې بې عدالتي ښيي. د یوه ځوان نسل لپاره چې د کاربازار ته داخلېږي، خو دندې ته لاسرسی شتون ونه لري، یا پر هېواد پالنه وځپل شي او یا مؤثرې تغذیه کوونکې شبکې ته لاسرسی پیدا نکړي. په تیزۍ سره د ډېرېدونکي نسل کمزورې اقتصادي ودې هم کاري فرصتونه محدود کړي. دا خو ټولو ته مالومه ده چې تعلیم، روغتیا او بنسټیزو خدمتونو ته کم لاسرسی، (په ځانګړي ډول ښځو او نجونو ته هم) په افغان غربت کې ونډه لري. ۷۵,۶ سلنه غریب بې تعلیمه دي. غریبه طبقه خلک د زیاتې بې کارۍ (۸ سلنه) سره مخ دي، (۴۱ سلنه) خلک د مسلک خلاف نورو برخو کې کار کوي او ډېر یې په زراعتي کارونو (۴۳,۶ سلنه) یا هم په غیر رسمي سکتور کې (۸۴,۳ سلنه) کار کوي. غریب خلک نسبت لږې برېښنا (۶۳,۸ سلنه)، د څښلو پاکو اوبو (۴۰,۳ سلنه) او روغتیایي خدمتونو ته (۲,۸ سلنه) لاسرسی لري. د غربت او محرومیت پر مختلفو دلایلو سربېره له تعصب او کرکې ډکې ټولنه کې د غریب، دولتي ادارو ته لاسرسی له ډېرو محدودیتونو سره مخ دی. ډېر کم یې د حکومت یا له ګټې پرته ادارو له لورې په نښه شوي دي. غربت هم د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې یوه ځانګړې موضوع ده.

## د غربت په ګټه د مداخلو ډیزاین او د بشري سرچینو زیاتول:

په افغانستان کې د غربت د کمولو بحث باید د دندو جوړولو او یا په پروژه او یو پروګرام کې د ورو دندو له فرصتونو برابرولو ورهاخوا شي. ثبوتونه ښيي چې وده، غربت او بې عدالتي له یو بل سره تړاو لري، یا داسې چې اقتصادي وده غربت کمولی شي. ځینې پر مختلط، د غریب په ګټه او د ودې د زیاتولو په لارو استدلال کوي؛ داسې چې "د ودې داسې زیاتوالی چې غریبې ښځې او سړي پکې ګډون وکړي او د ودې په زیاتوالي کې برخه واخلي". د نورو هیوادونو مثالونه ښيي چې د ټولنیزې خوندی سره پر لګښت اغېزمنې پالیسی بشري قوې ته پرمختګ ورکوي خو له بله پلوه د غربت کمول او په وده کې د ټولنیزو پالیسیو رول باندې ټینګار، په ځانګړې ډول د غربت کمول باید له پامه ونه غورځول شي. د نورو ملکونو مثالونه ښيي چې د کرهنې سکتور پرمختګ د هېواد پر ټول اقتصاد اغېز کوي، خو د لرې پرتو سیمو پر تعلیم، ټرانسپورټ، مخابراتو او د خصوصي سکتور پر پرمختګ بالعموم ټینګار کول د زیاتې ودې لپاره خورا مرستندویه ثابتېږي. نور استدلال کوي چې اقتصادي وده نشي کولی چې د غربت په کموالي کې رول ولري.

**مدني ټولنه او غیردولتي مؤسسې باید اقتصادي او سیاسي پوهنې ته پرمختګ ورکړي؛ په نړیواله ټولنه کې د افغانستان پر حیثیت وغږېږي او د کمزورو اقتصادي پالیسیو اغېز دې پر غریبو په نښه کړي. په نړیواله، سیمه ییزه او ملي کچه دې ښو اقتصادي پالیسیو او مالي روڼتیا او مسئولیتونو ته لاېي وکړي.**

ډیر استدلال کوي چې د غربت لورېدو لاملونو لپاره په افغاني ټولنه کې باید د پلې شویو ستراتیژیو، پالیسیو او پروسو د قوت او ضعف ټکي معلوم شي. د جغرافیايي موقعیت او د سرحدونو اغېز، چې د افغانستان په څېر هېواد څرنګه له نړیوال اقتصاد سره وصل کړي. محلي اقتصادي پالیسي د غربت او بې عدالتۍ یو مهم فکتور دی، خو دلته ځینې "تاریخي کلتوري او جوړښتي محدودیتونو چې د تولید او بیا تولید نابرابري یې د نړیوالتوب د لومړۍ درجې ویش سره وصل کړي" د افغانستان په څېر ویجاړ دولت د ولایتونو او سیمو په درجه بندۍ باندې ولاړ دی، په لویه کچه د مرستندویه لومړیتوبونو تابع دی، کوم چې په حقیقت کې حساسیستونه راپاروي، پر ځای ددې چې د افغانانو حقیقتونه او اړتیاوې په ګوته کړي.

نړدې- همجنسه "د اداري فساد له امله رامنځته شوی د غربت ذهنیت" دومره باید عمومي نه شي چې له سیاسي محتوا څخه د پالیسۍ ستونزې له پامه وغورځوي. د بیلګې په ډول داسې ډیر هېوادونه شته چې اداري فساد پکې په لوړه کچه دی او ښيي چې اقتصادي پالیسي پکې یو مهم عنصر دی چې باید وڅیړل شي. پداسې حالاتو کې د نړیوالو نهادونو له لوري ځینې پالیسۍ د اداري فساد د ذهنیت پر ځای د "غلطې پالیسۍ ذهنیت" رامنځته کوي. پرته له شکه چې د اداري فساد له امله رامنځته شوی د غربت بحث په اشرافو او نړیوالو مالي نهادونو کې ډیر مشهور دی؛ ځکه چې له جوړښتي لاملونو څخه رامنځته شوي غربت ته د پوښ په شکل کار کوي او د غیرفعالیت او غلطو پالیسیو خوښې ډیرې د شفافو تکنوکراتانو له لوري ده. څېړنې ښيي چې په وچه کې ایسار هېواد له صنعتي اقتصاد څخه ډېر لېرې وي "څو بُعدي غربت پکې له بې عدالتۍ څخه ډیر خطرناک وي". د زراعت او غیر رسمي سکتورونه د غریبو خلکو لپاره ډېر کارونه ایجادوي. د بیلګې په ډول؛ د حکومت له لوري پر سوداګرۍ، شخصي کولو، پانګونې، ګمرک او داسې نورې اړونده پالیسۍ.

## په مرستندویه تکیه او د مالیاتو غلط استعمال

په مرستندویانو تکیه یو ستونزه ده. د افغانستان د ۱۳۹۶ هجري کال بودیجې ۶۶ سلنه د نړیوالو مرستو په همکارۍ پوره شوه. له دې سره لنډمهاله ځای د مدني ټولنې او حکومت دی چې بودیجه پوره کوي. د مرستندویانو او مداخله کوونکو مسئولیتونه داسې ډیزاین شوي چې د پروژې له ټایم لاین سره سمې پایلې ولري. په تېزۍ سره د نړیوالو او ملي کارکوونکو مسئولیتونه زیاتول، او همدارنګه د پروژې په تړاو نوې او تازه مفکورې، د حکومت او

غیرحکومتي ادارو په واسطه تېرېږي، معنی دا چې لارې چارې په دوامداره توګه د ستونزو په حل کې پاتې راغلي او ستونزو نشي په نښه کولای. په لوړه کچه اداري فساد او د اشرافو له لوري په مختلفو بهانو د لنډمهاله ګټې په نظر کې نیول د اوږدمهاله پرمختګ پر وړاندې خنډ، او د مرستندویانو له لوري ترتیب شوې مرستې او کومکونه غیر مؤثر کړي. د حکومت او نړیوالې ټولنې له لورې د شفافیت او مسئولیت رامنځته کولو لپاره پر یوه میکانیزم کار کولو سربېره هم افغانستان ته شوې/کیدونکې مرستې په سم ډول نه استفاده کېږي. ددې پر وړاندې د مرستندویانو هڅو د غربت پر کمولو او دوامداره پرمختګ باندې اغېز کړی. ۲۰ میلیارده امریکایي ډالر له افغان حکومت سره له ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۸ پورې مرستې وشوې. مرستندوي په افغان سیستم کې روان اداري فساد په ګوته کړی او له بهرنیو څخه د مالي حساب غوښتل ددې لپاره یوه لار بولي. دا باید په یاد ولرو، چې په غوره ډول د مرستو همغږي کول د ملي لومړیتوبونو له پروګرام او د ګډې همغږۍ د کنټرول کولو بورډ له پیاوړي کولو څخه په لاس راتلای شي .

په مرستو د تکیې یو بل خطر د پالیسي پر ستونزو بحثونه دي چې څرنګه غربت له منځه ولاړ شي: ددې پروژو تمویل د عامه پالیسو د موخو، ددې پروژو تمویل سره تړلي معلومات د عامه پالیسي موخو په پېژندلو کې پاتې راغلي او د عایدو او سرچینو لاسته راوړلو اړوند کره ارزیابي څخه تیرېږي. د پروژو تمویل چې د پایلو په نښه کولو سره تړلي دي، د عددي او غیرعددي اقداماتو سیټ چې د پروژې د اداره کولو لپاره ترتیب شوي وي، دا د بودیجې او خرچې (فسکل) مسئولیتونو لپاره نه دي کله چې د دولت په کچه بودیجو کې پرې غېږېږو. د حکومت کلنۍ بودیجه د پروژو له مخې یا جوړېږي او یا نه، د بیلګې په ډول د فرعي برخو لکه ولایتونو او ولسوالیو لپاره. غیردولتي اداري هم مرستندویانو ته حساب ورکونکي دي په ځای ددې چې ټولنو ته مسئولې اوسي چې د پروژو له دوران سره تړلې وي؛ قراردادي مؤسسې خو لا ډیرې دامې دي. دواړو لړ د عرضې پوره کولو کې برخه اخیستې خو د غربت ختمولو کې په کامل ډول ناکام دي. یو ډول پروژې (د بیلګې په ډول؛ په کوچنی کچه د چرګانو فارم، د قالینو اوبدل، قالین بافي) مرستې هم له تېرو دربو لسیزو راهیسې له غیر دولتي ادارو، مرستدوی، قراردادي، او ورپسې وړونکو له پټی تیرېږي. افغانستان کافي د ګنډلو ماشینونه ترلاسه کړي دي چې هندوکش بیا ورغوي.

## د اداري فساد او د داخلي اشرافو له لورې د افغانستان د شتمنی لوټونکو پر وړاندې مبارزه به دوام لري

د اشرافو واک او ازادي مخ پر ودې هیوادونو کې ډیر عامه ستونزه ده. شخصي کول او د امنیتي او مجرم-رقمي اشرافو له لورې فرصتونو او اثاثو ته په افغانستان کې خلکو ته د لاسرسي مانع ګرځي. په دې اړه هیڅ بحث نشته، د بیلګې په ډول؛ په لویه پیمانه په غیرقانوني ډول د طبیعي زېرمو او راویستل او د حکومت ناتواني چې د بهرنیو هیوادونو له بانکونو څخه د افغان اشرافو سرمایه ترلاسه کړي. همدغه ذهنیت هم غربت کې یو څه ونډه لرلې. په غیرقانوني ډول د ځمکو غصب تقریبا ۵،۴ میلیارده ډالر چې دولت یې له امله ۷ میلیارده ډالر په خساره کې اچولی، تللي دي. د مدني ټولنې له لوري لابي او مشورې ورکړې تر څو د مرستندوی د خوښې له موضوعاتو هاخوا باید په نورو سکتورونو چې په لوړه کچه مالیه پرې ځي او کله خو حتی جرم شي، کاروکړي. د غربت له منځه وړل باید د اداري فساد له منځه وړلو په بحثونو کې مرکزي موضوع وي. د افرادو په ډراماتیک ډول نیول، تر څو مرستندوی خوشال شي، کافي نه دي. باید د دولت په مالي پلانونو او تمویلي پروګرامونو کې شفافیت موجود وي.

**هغوی باید منع شي چې غریب تباه کوي تر څو مرستې ترلاسه او ځان ته یې واړوي. غریب ته باید غږ ورکړل شي، او دا یقیني کړای شي چې دوی په پلانګذارۍ کې په فعاله ډول دخیل نه دي نه یوازې له بهر څخه د ډیزاین شویو مرستو ترلاسه کوونکي.**

اکثریت پروسې د غریب په استازیتوب په حقیقت کې د غریب پر وړاندې غیرمسئولانه او بې ارزښته دي. پر دې سربېره، په یو کاغذ د ښکلو لیکلو او یو څه نمایشي کارونو حقیقتي اړتیاوو باندې بې پرده اچولې او د پالیسي او ستراتیژي جوړولو تیزوالي په عمل له پلي کولو څخه لوېدلې. پر کاغذ پالیسي لیکونکي، په انګلیسي ویونکي په لوړه کچه له هغوی چې په انګلیسي خبرې نشي کولی، لوړ تعلیم یافته او دا نور لوی بې تعلیمه شمېرل کېږي. دوی نه پوهېږي چې ددوی په نوم د څه شي پرېکړه وشوه او څه ګټه ترې واخیستل شوه. همدغسې یو کوچنی متأثر کوونی ګروپ له مختلفو لارو څخه د نړیوالې ټولنې پر مټ معلومات راټولوي. تر اوسه لا په محلي کچه هیڅ رابطه نشته چې په محلي کچه د غریب حقیقت څرګند کړي. د مرستندویو او پروژو په ساحه کې استازي هیڅ معنی نه لري څکه پروسې، پروګرامونه او پیژندګلوي په لوړه کچه پر بهرني ذهینتونو باندې حاکم دي. هیڅ داسې بحثونه نشته چې د غربت په کموالي باندې بحث وشي. یوه فرضیه شته چې د ټولنې مخ او خیراتي نیتونه د ټولنې په اساس، د پروژو پرمختګ د منابعو او اثاثو مساویانه تقسیم یقیني کوي خو دا یو خیال دی.

Afghan Women's Educational Center

AWEC

مرکز تعلیمی زنان افغان

په افغانستان کې د ښوونې او روزنې د بیا ځلې تعریفولو په اړه د افغان ښځو د تعلیمي مرکز دغه لنډیز چې CAID سره په ګډه همکارۍ وړاندې کیږي، د پائښداره پرمختیایي اهدافو د محلي کولو د هڅو یوه برخه ده، چې د ټولو د یوې ښې راتلونکې لپاره د غیر دولتي مؤسساتو، خصوصي سکتور او حکومت تر منځ همکارۍ پیاوړې کړي .